د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 457**

( 01 - 06 مرغومی 1403 هـ ش)

## له بشارالاسد وروسته سوریه؛ راتلونکې سناریوګانې




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- له بشارالاسد وروسته سوریه؛ راتلونکې سناریوګانې ........ 3
- د سوریې د کړکیچ د پیل لاملونه ........ 3
- داخلي ښکیل څواکونه ........ 3
- بهرني ښکیل څواکونه ........ 4
- د اسد سقوط او ممکنه سناریوګانې ........ 5
- پایله ........ 8
- سرچینې ........ 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## له بشارالاسد وروسته سوریه؛ راتلونکې سناریوګانې

### سریزه

د سوریې هېواد چې له څه باندې یوې لسیزې راهیسې د ویجاړونکې جګړې په اور کې سوځېده، شاوخوا لس ورځې کیږي چې له دغه جګړې راووت. په دې ډول د احمد الشرع په نوم چې په ابو محمد الجولاني مشهور دی په مشرۍ د تحریر الشام ایتلاف د سوریې له شمال لوېدیځو سیمو څخه د ادلب په ولایت کې خپل بریدونه پیل کړل او د یوې اونۍ په دننه کې یې د سوریې پلازمېنه دمشق ونیوه او له واکه تښتېدلی ولسمشر بشار الاسد څخه یې د هېواد واک په لاس کې واخېست. د سوریې په څېر هېواد کې چې له څه باندې یوې لسیزې راهیسې د پراخې جګړې په اور کې سوځېده، دومره ستر پرمختګ که څه هم یوه ډېره د خوښۍ وړ پېښه بلل کېږي، خو د هغه هېواد، د راتلونکې لپاره هم یوه مهمه پوښتنه راپورته کیږي. دا چې د سوریې راتلونکی به څه کیږي؟ ځکه چې د هېواد دننه او بهر ډېر ځواکونه او قوتونه ښکېل وو. له همدې امله، په دې مقاله کې به هغه احتمالي سناریوګانې وڅېړل شي چې د سوریې لپاره د نوي پرمختګ څخه وروسته تصور کیږي. البته له دې مخکې، غوره ده چې د سوریې د کړکیچ د پیل، عوامل او په سوریه کې د شته قوتونو په اړه بحث وشي.

### د سوریې د کړکیچ د پیل لاملونه

د یویشتمې پېړۍ د لومړۍ لسیزې له پیل راهیسې په عربي هېوادونو کې د اعتراضونو څپې پیل شوې، چې د عرب پسرلي په نوم یادېږي. دغه لاریونونه چې ټول یې ولسي اړخ لاره، ظاهراً په تونس هېواد کې د بېوزلۍ او بېکارۍ په اعتراض کې د یوه کس لخوا د ځان په سوځولو سره پیل شول. دې څپې د ځینو عربو هیوادونو رژیمونه او د هغوی څو کاله استبدادي واکمنان یو په بل پسې ړنګ کړل. البته دې څپې عربي هېوادونه په دوه ډوله اغېزمن کړل. لومړۍ بڼه چې د واکمنانو د لا تسلط لامل شو، په مصر او تونس کې په ښه توګه مدیریت شوه او له تاوتریخوالي پرته د حکومت په سطحه کې د بنسټیزو بدلونونو سره پای ته ورسېده. خو په ځینو نورو عربو هیوادونو کې دغه څپې د حکومتونو د مقاومت او په نتیجه کې د بغاوت او کورنۍ جګړې او بهرنۍ مداخلې د پیلیدو لامل شوې. په لیبیا کې تر ټولو بد حالت رامنځته شو، چې د معمر القذافي د حکومت د نسکورېدو لامل شو او دغه هېواد د یوې نامشروع کورنۍ جګړې په لور وخوځېد. په سوریه کې د بشارالاسد په مشرۍ مرکزي حکومت په واک کې پاتې شو، خو په دغه هېواد کې څو ډلو د حکومت پر ضد وسله پورته کړه او حتی د بهرنیو مداخلو لامل شول. په دې هېواد کې په لومړۍ سر کې لاریونونه سوله ییز وو، خو د حکومت د کلک غبرګون له وجې دغه لاریونونه د وسله وال حوځښت لامل شول چې په ترڅ کې یې د حکومت او مخالفو وسله والو ډلو ترمنځ د جګړې په ډګر بدل شو.

### داخلي ښکیل ځواکونه



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لکه څنګه چې وویل شول په لومړي سر کې په سوریه کې لاریونونه په مدني او سوله ییز ډول ترسره شول، خو د حکومت سخت غبرګون، د بېلګې په توګه د دغه هېواد په جنوب کې د درعا په ښار کې د لاریون کوونکو وژل د حکومت ضد وسلوالو ډلو د رامنځته کېدو لامل شول. وسله والې ډلې لومړی ډله چې د سوریې د ادلب، حمص او رقه ښارونو په ګډون د سوریې یوه لویه جغرافیایي سیمه یې له دولتي حاکمیت څخه ایستلې وه، د القاعدې یوه څانګه وه چې د جبهة النصره په نامه مشهوره وه چې مشري یې احمد الشرع چې په محمد الجولاني پېژندل کیده کوله، خو ډېره موده نه وه تېره شوې چې د (عراق او شام اسلامي دولت-داعش) تر عنوان لاندې بله ډله چې د سیمې په تاریخ کې بې ساري وه، ډېر ژر په دې وتوانیده چې د جبهة النصره ټولې نیول شوې سیمې او د سوریی نوې سیمې چې شاوخوا ۴۰ سلنه کېده ونیوله او د سوریې په شمال کې یې د رقه ښار د یو حکومت په توګه اعلان وکړ او نه یوازې په دمشق او عراق کې بلکې په ټولو اسلامي هېوادونو او نړۍ کې یې د اسلامي خلافت د ټینګېدو غوښتنه وکړه. د داعش د اعلان شویو اهدافو او غیر دودیز چلند له امله، ټوله نړیواله ټولنه د دې ډلې پر ضد راوپارېده او د عراق او سوریې په دوو هېوادونو کې د ټولو ښکېلو خواوو د ایتلاف له خوا پر دغه ډلې بریدونه وشول او تر ۲۰۱۷ م کال پورې په عراق او سوریې کې په پراګنده ډول موجوده وه او نور ټوله جغرافیه یې له لاسه ورکړه. د داعش په له منځه وړلو سره د خپلې خاورې یوه لویه برخه د سوریې حکومت ته بیرته ورکړل شوه. د رقه ښار په ګډون شمالي برخې د امریکا په ملاتړ د (سوریې دیموکراتیکو ځواکونو) کرد ځواکونو ته ورکړل شوې. په همدې حال کې جبهه النصره په ۲۰۱۷ز. کال کې له القاعدې څخه د «تحریر الشام» په نوم جلا شوه او په ادلب ولایت کې یې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ او بیا یې له څو نورو ډلو سره په ملګرتیا د « هیئت تحریر شام » لقب خپل کړ. د هیئت تحریر شام او کرد ځواکونو سربیره، چې نږدې ټولې کردمېشته سیمې تر خپل کنټرول لاندې لري، د سوریې په شمال کې د (ازادې سوریې پوځ) تر نامه لاندې نور ځواکونه هم شتون لري او تر ډېره د سوریې او ترکیې په پوله کې د ترکیې تر ملاتړ لاندې فعالیت کوي.

**بهرني ښکیل ځواکونه**

سوریه د نړۍ له مهمو سیمو څخه ده چې تقریباً د اسیا، اروپا او افریقا درې لویې وچې سره نښلوي او په ورته وخت کې دغه هېواد د اسرائیلي رژیم سره ګډه پوله او د روسیې سره متحد دی، له ایران سره هم ګډ مصلحتونه لري. په دې هېواد کې د کورنۍ جګړې پیل، د لوبډیځو قدرتونو لپاره لاسته راوړنه وه تر څو جګړې ته د داخلېدو بهانه ورته پیداشي. د لویدیځو، عربو او ترکیې هېوادونو د ائتلاف په شمول یو شمیر هیوادونه د بشارالاسد د رژیم پرضد وو او د هغه د ړنګېدلو غوښتونکي وو. البته، هر یو د بشارالاسد د رژیم د نسکورولو ګډ هدف سره سره خپل شخصي اهداف تعقیبول. د بېلګې په توګه امریکایانو په ښکاره د ډیموکراتیکې جبهې او کردانو ملاتړ کاوه، او ترکیه له هغو ډلو سره وه، چې غوښتل یې یوه واحده او د ترکیې د مصلحتونو پر بنسټ سوریه جوړه کړي. په همدې حال کې عربي هیوادونه لکه سعودي عربستان چې له ډیرې مودې راهیسې د بشار الاسد له بعثي رژیم سره ستونزې لري، د سني سلفي ډلو په ملاتړ ډګر ته ننوتلي دی. له بلې خوا ایرانیانو او روسانو د بشارالاسد د رژیم ملاتړ کاوه. روسان د بشار الاسد له رژیم سره پاتې

شول ځکه چې سوریه د شوروي له دورې راهیسې د دې هیواد دودیز متحد دی او یوازینی هیواد دی چې روسیه پکې دایمي نظامي اډې لري او ایران د شیعه ګانو د یوې وړې ډلې (علویانو) د واکمنۍ له امله د حلال شیعه د یوې مهمې برخې په توګه د بشارالاسد له رژیم څخه ملاتړ کاوه. البته، د ایران لپاره د دې مسلې ترڅنګ، سوریه یوازینۍ ممکنه ځمکنۍ لار ده چې لبنان ته لاسرسی ومومي او په هغه هېواد کې د حزب الله ملاتړ وکړي. لکه څنګه چې وویل شول، په سوریه کې د بهرنیو قدرتونو د لوړې کچې جګړې او د هغوی ترمنځ د ګټو د ټکر شتون د سوریې کړکیچ څو اړخیزه او پراخ کړ چې اول او اخیر یې نه تصور کېږي.

## د اسد سقوط او ممکنه سناریوګانې

د بشارالاسد حکومت چې د روسیې او ایران د پرېکنده مرستې له امله یې له څه باندې یوې لسیزې راهیسې د داخلي ډلو د سختو څپو په وړاندې مقاومت وکړ، بالاخره د یوې اونۍ په موده کې د هیئت تحریر شام له خوا ړنګ شو. په اوس وخت کې په سوریه کې د شته روان حالات له یوې خوا او دا چې په سوریه کې اوس مهال څو ډلې عملا فعالې دي له بلې خوا، چې ځینې یې مستقیم او غیر مستقیم بهرنۍ ملاتړ لري او همدارنګه امریکا په عملا کې په سوریه کې پوځي اډې لري، او لا تر اوسه روښانه نه ده چې روسیه به له دې هېواده وځي او که نه، او په راتلونکي کې به ایران څه ډول چلند غوره کوي؟ د دې هېواد راتلونکی به څه وي؟ په دې برخه کې، د سوریې لپاره څو ممکنه سناریوګانې تصور کېدی شي، چې هر یو یې لاندې تشریح شوي.

### د یو ټولشموله مرکزي حکومت جوړول

یو تصور چې د سوریې د راتلونکي په اړه وړاندې کېدی شي دا دی چې په دې هیواد کې به د ټولو داخلي ګوندونو د منلو وړ مرکزي حکومت جوړ شي. که څه هم هیئت تحریر شام له القاعدې سره د تړاو تاریخچه لري او د ډېري هیوادونو لخوا د یوې ترهګرې ډلې په توګه پیژندل کیږي، دې ډلې د بشارالاسد د حکومت له نسکورېدو او د دمشق له نیولو وروسته داسې کړنلارې او چلند ترسره کړې چې دا په ډاګه کوي چې د سوریې لپاره یو مناسب راتلونکی په تمه دی. لومړۍ قضیه چې په سوریه کې داخلي افکارو او د نورو هیوادونو په افکارو باندې سخت تاثیر لري د سوریې د ادارې د مشر احمد الشرع په کړنو او خبرو کې بدلون دی. په لومړي ګام کې احمد الشرع د ابو محمد الجولاني مستعار نوم پرېښود او خپل اصلي نوم او نښه یې وکاروله. همدارنګه د بېلابېلو جامو په اغوستلو سره یې وښوده چې له جګړې څخه یو مدني او سیاسي حالت ته تللی دی. البته لکه څنګه چې د تېرو څو کلونو په څیر د هیئت تحریر شام وتوانید چې په ادلب ولایت کې د "ژغورنې حکومت" تر سرلیک لاندې د ښې حکومتدارۍ نمونه وړاندې کړي، د دمشق له نیولو وروسته یې د پخواني صدراعظم په ساتلو سره تر موقت حکومت جوړولو پورې د ګډوډۍ مخه ونیوله. موقت حکومت د محمد البشیر په مشرۍ جوړ شو چې د ادلب ولایت د نجات دولت مشر هم و او د هغه تر څنګ یې په کابینه کې ګڼ شمېر لوستي شخصیتونه غوره کړي دي. هغه ځواکمن شخصیتونه چې د موقت حکومت په جوړښت کې شتون لري د دې ښودنه کوي چې د مهمو کدرونو په اداره کولو سره د سوریې د بیارغونې ټینګ هوډ شتون لري. بله خبره چې دوی به سوریې په بل افغانستان بدلوی ناسمه خبره ښیي، هغه په خپله وروستۍ مرکه کې ویلي چې د افغانستان او سوریې په ټولنه کې ډېر توپیرونه شته. ځکه د ده په اند افغانستان یوه

قبیلوي ټولنه ده،[1] په داسې حال کې چې په سوریه کې ذهنیت توپیر لري او د سوریې خلک د ښځو پر تعلیم باور لري. په همدې خاطر عایشه الدبس په دې وروستیو کې په نوې کابینه کې د ښځو د چارو د وزیرې په توګه وټاکل شوه.[2] دا انتخاب ښیي چې د احمد الشرع ټیم د خپلې ټولنې په سیاسي او ټولنیز جوړښت کې د ښځو د شتون په اړه د اسلامي امارت په پرتله بل فکر لري. د داسې داخلي تګلارې سره چې د شرعي قوانینو د پلي کولو په برخه کې د یو ټول شموله او سوله ییز حکومت رامنځته کولو پر بنسټ ولاړ وي، چې د نړدې ټولو داخلي قوتونو حتی د مذهبي او قومي ګټو ته زمینه برابروي. د بهرنۍ سیاست په برخه کې که د هیئت تحریر شام د مشر له چلند او وینا څخه معلومیږي چې د هغه په مشرۍ حکومت هڅه کوي چې له سیمه ییزو شخړو او سیالیو څخه پاکه سوریه جوړه کړي. حتی د اسراییلو په اړه د هغه چلند، چې د سوریې د راتلونکې په اړه به خورا مهم او اغیزناک بحث وي، هغه اعلان وکړ چې سوریه به په راتلونکې کې له اسراییلو یا بل کوم هیواد سره دښمني او جګړه ونه غواړي.[3]

سوله ییزو دریځونه، له تاوتریخوالي څخه پاک او د یوه اغیزمن حکومت د رامنځته کولو لپاره هوډ او د سوریې د بیارغونې پلان او همدارنګه د سوریې د موقت حکومت له خوا د ګاونډیو او نورو هېوادونو په وړاندې د اختلاف څخه پاکه بهرنۍ پالیسي غوره کول او په دمشق کې د واکمنې ادارې د مشر احمد الشرع له دریځونو او مرکو څخه دا معلومیږي، نور هېوادونه هم باید مناسب غبرګونونه وښایي. امریکا په یوه سمدستي اقدام کې د احمد الشرع پر سر د ۱۰ میلیونو ډالرو انعام لرې کړی دی او د سوریې له واکمنې ادارې سره یې د اړیکو چینلونه پرانیستي دي.[4] همدا راز یو شمېر اروپايي او عربي هېوادونو په دمشق کې خپل سفارتونه بېرته پرانیستل.[5] دغه راز د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر هم په دې وروستیو کې دمشق ته تللی و او له احمد الشرع سره یې وکتل او خبرې یې ورسره وکړې.[6] په ټولیزه توګه ویلای شو چې د اوسنیو کړنو له مخې د سوریې لپاره یوه ښه راتلونکی په تمه دی او د دمشق د نویو واکمنانو سیاسي تکتیک کولای شي دغه هېواد له اوسني وضعیت څخه د یوه مناسب لوري په لور بوځي.

د داسې خوشبینانه انګیرنې او د هغې د پلي کولو سره سره، چې د هیئت تحریر شام تر ټولو مهمه تګلاره او پالیسي په داخلي او بهرنیو دواړو برخو کې ده، مګر د متضاد داخلي ځواکونو شتون او په سیمه ییزو، نړیوالو او نورو سطحو کې د بهرنیو قدرتونو توقعات، شته پوتنشل، د سوریې د راتلونکې په اړه د بدبینه سناریوګانو تصور هم کیږي، چې هر یو ته یې اشاره کوو.

**د هیئت تحریر شام د ځواکونو ترمنځ اختلاف**

لومړۍ قضیه چې د داخلي شخړې احتمال زیاتوي د هیئت تحریر شام ځواکونو ترمنځ اختلاف دی. هیئت تحریر شام د څو ډلو ایتلاف دی لکه جیش الاحرار، جبهه فتح الشام، جبهه انصارالدین، جیش السنة، لواءلاحق او نورالدین زنګي غورځنګ چې یو وخت د یوه ګډ هدف پر ضد جنګیدل. سربېره پر دې چې د دوی د اهدافو د پوره کېدو په صورت کې د دوی د اتحاد د دوام احتمال هم شته، خو د واک د وېش او یا د هېواد د ادارې د څرنګوالي پر سر د دوی ترمنځ د اختلافاتو رامنځته کېدل هم نه ردېږي. له بلې خوا، دوه نور ځواکونه چې د هیئت تحریر شام په مرسته د بشار الاسد له منګولو څخه د سوریې د آزادولو په عملیاتو کې برخه واخېسته، یو یې د ترکیې په ملاتړ د "سوریې ملي اردو" تر عنوان لاندې، چې د دغه هېواد په شمال کې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ډېرې سيمې لري او بله يې د " اتاق عمليات جنوب " تر عنوان لاندې ده. دا معلومه نه ده چې دغه دوه ځواکونه به د دمشق له نوي حکومت سره څه ډول اړیکه ولري. ايا دوی به خپلواک پاتې شي يا به د هيئت تحرير شام په مشرۍ د سوريې په نوي حکومت کې مدغم شي.

**له کردانو سره د مرکزي حکومت اختلاف**

دويمه مسله د کردانو قضيه ده. کردان چې د متحده ايالاتو تر ملاتړ لاندې د څو کلونو راهيسې خپلواک دي، د هغوی سره د هيئت تحرير شام پخلاينه ده، چې دا يوه شک لاندې مسله ده. ځکه چې له يوې خوا دا دواړه په تېرو وختونو کې د يو بل پر ضد وو او معلومه نه ده چې په کوم ميکانيزم او په کومو مسايلو به جوړجاړی وکړي. او له بلې خوا، ترکيه چې په ملاتړ يې هيئت تحرير شام د بشارالاسد رژيم نسکورولو لپاره چټک عمليات ترسره کړل د معادلې په بل لوري کې قرار لري. ترکيه به هيڅ کله هم د سوريې راتلونکي حکومت ته اجازه ورنکړي چې کردانو ته د يوه خپلواک فدرالي واحد ترحده واک ورکړي، په دې حالت کې مرکزي حکومت بايد د زور په کارولو سره کردان تر خپل واک لاندې راولي، چې دا نه يوازې امريکايان به يې په وړاندې ودرېږي بلکې په دغه هېواد کې د نوې جګړې د پيل دليل دی. البته په دې برخه کې بايد د ترکيې او امريکا ترمنځ معامله له پامه ونه غورځول شي. يو احتمال دا هم دی که چېری دا دواړه هېوادونه وغواړي د معاملو له لارې قضيه مديريت کړي. دا پدې مانا ده چې امريکا نه غواړي د کردانو لپاره د امتيازاتو په بدل کې چې دوی يې ملاتړ کوي د دمشق له حکومت سره په شخړه کې ښکيل شي. يا دا چې ترکيه د کردانو په کلکه ملاتړ کولو سره له خپلو غوښتنو څخه لاس په سر شي ترڅو د ايران د بيا نفوذ مخه ونيسي.

**د روسيې او ايران بياځلي مداخله**

د سوريې په نوې مسله کې ورکه شوې اړیکه د روسيې نه فعالېدل دی. هغه څه چې يقيني دي دا دي چې د بشارالاسد حکومت په تېرو پنځلسو کلونو کې چې د اپوزيسيون له سترو ګواښونو سره وجنګېد، د روسيې او ايران ملاتړ ورسره وو. دا چې ولې روسانو اجازه ورکړه چې د بشارالاسد حکومت نسکور شي، يوه ناځرګنده پوښتنه ده. پداسې حال کې چې روسانو کولای شوای په اسانۍ سره د دمشق پر لور د مخالفو ځواکونو د پرمختګ مخه ونيسي، خو هيڅ يې ونه کړل او حتی که په دې وروستيو کې د بشار الاسد په اړه چې مسکو ته وتښتېد، يو مطلب خپور شو، چې غوښتل يې مقاومت وکړي، خو روسيې اجازه ورنه کړه. دا چې ولې روسيې د بشار الاسد د حکومت له ملاتړ څخه انکار وکړ، دا يوه مرموزه مسله ده چې دا مهال هيڅ معقول څه نه شو ويلی. په هرصورت، دا احتمال چې روسيه به وغواړي يو ځل بيا سوريې ته ننوځي په سوريه کې د داعش بيا فعالېدو پورې اړه لري. البته ښايي روسان غواړي د داعش سره د مبارزې په پلمه چې لا هم په سوريه کې شتون لري د دمشق د واکمنانو سره په همغږۍ کې په سوريه کې خپل پوځي شتون وساتي. د روسيې تر څنګ يو بل هېواد چې سوريې ته يی د بيا راستنېدو احتمال زيات دی ايران دی. ايران د سوريې د لوبې اصلي بايلونکی دی. د بشارالاسد په تېښتې سره ايران په منځنې ختيځ کې خپل ستر متحد له لاسه ورکړ. دې احتمال ته په پام سره چې که د دمشق نوي واکمنان وغواړي له ايران سره په دوښمنۍ مخ ته ولاړ شي، ايران به په سوريه کې خپلې نيابتي ډلې پياوړې کړي او د عراق له لارې به په سوريه کې مداخله کوي. البته ايران په سوريه کې د کورنۍ جګړې د رامنځ ته کولو لپاره کافي وسايل نه لري، البته په سوريه کې د ګډوډۍ

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د رامنځ ته کولو لپاره د عراق لاره د ایران مناسبه ده. د ویلو ده چې د ایران غبرګون به په سوریه کې د دمشق د واکمنانو د عمل د ډول سره سم وي.

**د داعش او القاعدې بیا راڅرګندېدل**

بله مسله په سوریه کې د داعش بیا فعالېدل دي. داعش چې د پخوانۍ جبهة النصره او اوسني تحریر الشام یو له اصلي دښمنانو څخه دی، په دمشق کې د نوي حکومت د پوځي کمزورتیا له امله به د بیا فعالیت فرصت ومومي او دوباره به فعالیت شروع کړي. دا سناریو هغه وخت پیاوړې کیدی شي چې د سوریې په سیاست کې ښکیل قدرتونه دې ته اجازه ورنکړي چې هیئت تحریر شام په سوریه کې یو پیاوړی مرکزي حکومت جوړ کړي. همدارنګه له بلې خوا القاعده هم په دې لټه کې ده چې د هیئت تحریر شام څخه د غچ اخېستلو په پار سوریه کې خپل عملیات لا زیات کړي. لکه څنګه چې یادونه وشوه، د داعش او القاعدې بیرته راستنیدل په سوریه کې د پوځي مداخلې لپاره ښه بهانه کیدی شي. دا احتمال چې لوېدیځ قدرتونه په تېره بیا امریکا به له دې عذره کار واخلي، ناشوني نه ښکاري.

**پایله**

که بشارالاسد له سیاسي تکتیک او درایت څخه کار اخیستی وای او په ورته وخت کې یې د عربي پسرلي د اعتراض کوونکو غوښتنو ته مثبت ځواب ویلی وای، نو د کورنۍ جګړې له امله به نیم میلیون وژنې او میلیونونو خلکو بې کوره کېدل نه رامنځ کېدل. اسد د خپلو خلکو د مشروع غوښتنو په وړاندې مقاومت او پر بهرنیو منابعو په تکیه سره هېواد د تباهۍ کندې ته ورساوه او بالاخره په بې شرمۍ سره له هېواده وتښتېد. اوس چې په سوریه کې د ښکیلو ځواکونو یوه برخه په دې وتوانیدله چې د سوریې له خلکو څخه د بشارالاسد د رژیم شر کم کړي، دغه هېواد یوې نوې دورې ته داخل شوی دی. د هغو سناریوګانو له مخې چې مخ ته ذکر شول، د سوریې راتلونکی به له ننګونو پرته نه وي. که څه هم دا ممکنه ده چې ننګونې او خنډونه له منځه یوړل شي او په ټولو بدمرغیو سناریوګانو بریالی شي، دا کار د دمشق د نویو واکمنانو په تکتیک او درایت پورې اړه لري. که څه هم د احمد الشرع په مشرۍ د دمشق د نویو واکمنانو کار تر دې دمه روښانه دی او د دوی د بیانونو او دریځونو له محتوا څخه معلومېږي چې دوي په کورنیو او بهرنیو ډګرونو کې داسې سیاستونه تعقیبوي چې ښه لید وړاندې کوي. د سوریې وضعیت او په دغه هېواد کې د مختلفو متضادو ډلو شتون او تر ټولو مهم د سیمې د هیوادونو او د نړۍ د قدرتونو اهدافو او ګټو ته په پام سره، د بدبینه او ناوړه سناریوګانو د تحقق امکان ناشونی نه دی. په هر صورت دا حقیقت چې د بشارالاسد ظالم او فاسد رژیم نسکور شو د سوریې د خلکو لپاره د خوښۍ وړ پیښه ده، خو د سوریې د ازادۍ او د اسلامي نظام د رامنځ ته کېدو د لاسته راوړنو د ساتلو لپاره کافي تدبیر ته اړتیا ده. په سوریه کې نه یوازې د سوریې خلکو ته د خوښۍ راوستل، بلکې د نورو هېوادونو لپاره هم نمونه شي. بې له شکه چې تر اوسه د دمشق نویو واکمنانو چې مشري یې احمد الشرع کوي، ښه ځلېدلی دی چې ویې کولای شول د سوریې د خلکو او نړیوالې ټولنې ټولنې رضایت او حمایت لاس ته راوړي چې دوام به یې ممکن د خوشبینۍ او ښې سناریو د سوریې د راتلونکې لپاره د نورو سناریوګانو په پرتله ډېر محتمل کیدای شي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## سرچینی

1. حاکم جدید سوریه می‌گوید کشورش شبیه افغانستان نخواهد شد. تاریخ نشر ۱۴۰۳/۹/۳۰
https://da.azadiradio.com/a/33246781.html

2. یک زن در کابینه الجولانی عهده‌دار مسئولیت شد. تاریخ نشر ۱۴۰۳/۱۰/۲
https://vista.ir/n/ilna-q9ika

3. الجولانی: به دنبال جنگ با اسرائیل یا هیچ کشور دیگری نیستیم. تاریخ نشر ۱۴۰۳/۹/۲۶
https://www.isna.ir/news/1403092619384/%D8%A7%D9%84%D8%AC%D9%88%D9%84%D8%A7%D9%86%DB%8C-%D8%A8%D9%87-%D8%AF%D9%86%D8%A8%D8%A7%D9%84-%D8%AC%D9%86%DA%AF-%D8%A8%D8%A7-%D8%A7%D8%B3%D8%B1%D8%A7%D8%A6%DB%8C%D9%84-%DB%8C%D8%A7-%D9%87%DB%8C%DA%86-%DA%A9%D8%B4%D9%88%D8%B1-%D8%AF%DB%8C%DA%AF%D8%B1%DB%8C-%D9%86%DB%8C%D8%B3%D8%AA%DB%8C%D9%85

4. از سر گیری نمایندگی‌های دیپلوماتیک خارجی در دمشق. تاریخ نشر ۱۴۰۳/۹/۲۲
http://irdiplomacy.ir/fa/news/2029930/%D8%A7%D8%B2%D8%B3%D8%B1%DA%AF%DB%8C%D8%B1%DB%8C-%D9%81%D8%B9%D8%A7%D9%84%DB%8C%D8%AA-%D9%86%D9%85%D8%A7%DB%8C%D9%86%D8%AF%DA%AF%DB%8C-%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%AF%DB%8C%D9%BE%D9%84%D9%85%D8%A7%D8%AA%DB%8C%DA%A9-%D8%AE%D8%A7%D8%B1%D8%AC%DB%8C-%D8%AF%D8%B1-%D8%AF%D9%85%D8%B4%D9%82

5. از سر گیری نمایندگی‌های دیپلوماتیک خارجی در دمشق. تاریخ نشر ۱۴۰۳/۹/۲۲
http://irdiplomacy.ir/fa/news/2029930/%D8%A7%D8%B2%D8%B3%D8%B1%DA%AF%DB%8C%D8%B1%DB%8C-%D9%81%D8%B9%D8%A7%D9%84%DB%8C%D8%AA-%D9%86%D9%85%D8%A7%DB%8C%D9%86%D8%AF%DA%AF%DB%8C-%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%AF%DB%8C%D9%BE%D9%84%D9%85%D8%A7%D8%AA%DB%8C%DA%A9-%D8%AE%D8%A7%D8%B1%D8%AC%DB%8C-%D8%AF%D8%B1-%D8%AF%D9%85%D8%B4%D9%82

6. دیدار وزیر خارجه ترکیه با جولانی در دمشق. تاریخ نشر ۱۴۰۳/۱۰/۲
- https://www.bakhtarnews.af/dr/%D9%88%D8%B2%DB%8C%D8%B1-%D8%A7%D9%85%D9%88%D8%B1-%D8%AE%D8%A7%D8%B1%D8%AC%D9%87-%D8%AA%D8%B1%DA%A9%DB%8C%D9%87-%D8%A8%D8%A7-%D8%B1%DB%8C%DB%8C%D8%B3-%D8%AF%D9%88%D9%84%D8%AA-%D8%AC%D8%AF%DB%8C%D8%AF/

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000 +93780618000



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)